جمعیت علماي اسلام به رهبري مولوي فضل الرحمن که درمجلس پیشین بدون هیچ ائتلافي شش کرسي بدست آورده بود درانتخابات کنوني علي الرغم ائتلاف باخانم بي نظیربوتو وجناح مسلم لیگ آقاي چته صرف دوکرسي راازآن خودکردیعني ائتلاف نتیجه معکوس داد. محاذجمهوري اسلامي وجبهه متحددیني نیزصرف دو،دونماینده درمجلس دارند .

درمورد احزاب اسلامي صرف کمبودکرسي هانیست بلکه کمبود آراء نیز قابل توجه میباشد تاجائیکه درانتخابات مجلس ملي صرف ۲/۳ آراء به نفع جماعت اسلامي ریخته شده است .

اکنون احزاب اسلامي باید ازخودبپرسندکه علت این شکست چیست ؟

بعضي ازمبصرین اظهارنظرمي کنندکه رحجانات مذهبي میان مردم کاهش یافته ویه مسایل اقتصادي علاقه بیشتري پیداکرده اند ووروي همین دلیل احزاب اسلامي درموقعیت ضعیفي قرارگرفته اند . نه تنهامن بااین نظرموافق نیستم بلکه عقلاً شایدهیچ کسي نتواند بپذیردکه مردم پاکستان ویه خصوص هواداران احزاب اسلامي به این زودي وفقط درظرف سه سال این همه تغییرکرده باشند .

پس باید این علت رادرسیاست هایي که رهبران این احزاب درپیش گرفته اندجستجوکردزیرا اعضاوهواداران احزاب اسلامي بخاطررضاي خداوند متعال است که به این احزاب علاقه داشته ویه نفع آنهاراي میدهند ومانند اعضا وهواداران سایراحزاب نیستندکه درمعروف ومنکرازرهبرخود اطاعت کنند .

رهبران اکثراحزاب اسلامي ویه خصوص مولوي صاحب فضل رحمن اظهار میداشتندکه زن نباید متصدي امورکشورباشد وراست هم مي گفتند زیرابخاري ازابوبکر (رض) روایت کرده که پیامبرصلي الله علیه وسلم فرمود:" لن یفلح قوم ولواشؤونهم امراة" اماکنون این حدیث مبارك راشایدازیادبرده ویاائتلاف وغیره میخواهند زمینه رابراي حکمراني بي نظیربوتودرپاکستان مساعدمي سازند .

من قویاً عقیده دارم که علت اساسي ضعف احزاب اسلامي درانتخابات اخیراتخاذ سیاست هاي ناسالم بوده واگرایشان درآینده دربرنامه هاي خویش تجدیدنظرنمایند ودرصورت امکان بکوشند اتحادي میان خود تشکیل دهند پیروزي هاي چشم گیري بدست خواهند آورد .

درپایان بهتراست به دوموضوع اساسي که درنتیجهٔ انتخابات اخیرمطرح گردید مختصراً تماس بگیریم .

- درهمان روزي که نتایج انتخابات مجلس ملي اعلان شدآقاي وسیم سجادقایم مقام ریاست جمهوري

ص٤

اخلاص

محمدخلیل

په عربي لغت کي داخلاص معني دیوشي خالص کولوته وایي اوپه اسلامي محاوره کي هغه نیك کارته وایي چي یواځي دالله جل جلاله دخوشحالولوپه خاطر وشي ، پدي کي ریاء،نمود ،دنیاوي غرض اوشهرت لاسته راوړلو قصد نه وي .

دهرعبادت داراومداراخلاص سره تړل شویدي دایمان اواسلامي ارکانو قبولیت هم په اخلاص پوري موقوف دي الله جل جلاله فرمایي .ترجمه : دالله عبادت دزړه په اخلاص وکړي .زمر(۲۳)

دلا اله الا الله معني اومطلب دادي چي یواځي الله تعالي رښتوني معبود دي اوموږټول دهغه (ج) بندگان اوغلامان یو، دبندگي اوغلامي غوښتنه داده چي هرکاردالله جل جلاله دخوشحالي اورضاپه خاطر وکړاي شي. الله پاك پخپل کلام قرآن پاك کي په اخلاص ډیرزوراچولي دي اومسلمانانو ته یي تاکید کریدي چي پخپلوزړونوکي اخلاص پیداکړي.

اخلاص ډیرمهم شي دي چا چي په زړه کي اخلاص پیداکړ په حقیقت کي هغه پخپل نفس قابووموند اوچاچي پخپل نفس قابو وموند هغه خپل رب رضاکړ. په حقیقت کي دانسان ډیرلوي دښمن پخپله دهغه نفس دي همدغه نفس انسان بدواعمالوته راکاږي ،نفس هرکاردخپل خوښي په مطابق کول غواړي اوالله پاك دخپل خوښي په مطابق غواړي ..کله چي یو انسان هرکاردالله دخوښي په مطابق وکړي نوهغه خپل نفس یي پښو لاندي کړ اوالله یي رضاکړ دغه نفساني غوښتنو وژلوته عبادت اواطاعت وایي.

مونږچي هرکارکوو دهغه دوه صورتونه وي یو مادي اوبل روحاني ،که چیري یوکاردزړه له کومي یواځي دالله پاك درضااوخوښي دگټلوپه خاطروشي نوهغه دعبادت درجه گټي اوکه ریا اونمود له پاره وشي نوهغه مردود اونامقبول دي .الله پاك فرمایي ترجمه : الله پاك ته نه دقربانیو غوښي رسیږي اونه وینې بلکه هغه (ج) ته ستاسي دزړونو تقوي رسیږي . هغه جل جلاله خوراك اوڅښاك نه کوي هغه (ج) غني اوبي نیازه دي هغه (ج) یواځي ستاسي دزړونو اخلاص ته گوري چي داکارمو دکوم نیت اوارادي په وجه سرته رسولي دي که په زړونوکي اخلاص وي نوخداي (ج) خوشحال دي اوکه نه نو په قهردي.

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي ترجمه الله تعالي ستاسو جسمونو اوشکلونوته نه گوري بلکه ستاسي زړونو ته گوري چي ستاسي په زړونوکي اخلاص شته یانه په اصل کي ایمان اواخلاص دواړه یودي ځکه چي لا اله الا الله ایمان دي پدي کي دهرغیرمخلصانه کارونو نفي ده نوځکه همدااخلاص هم دي (مسلم)

له رسول الله صلي الله علیه وسلم نه یوسړي پوښتنه وکړه چي ایمان څه شي دي هغه (ص) وفرمایل چي اخلاص (بیهقي ترغیب) له مخلصونه الله پاك خوشالیږي.

الله جل جلاله هغه عمل قبلوي چي خاص دخداي له پاره وکړاي شي اودهغه رضایي مقصد وي . (طبراني ترغیب)

په کوم عمل اوکارکي چي ریااونمودوي هغه دالله په نزد مردود دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي .

ترجمه : چا چي دریااونمود په خاطر روژه ونیوله ،لمونځ یي وکړ اوصدقه یي ورکړه هغه شرك وکړ. (بیهقي ترغیب)

معمولي غوندي ریاهم شرك دي ، رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي چي لږ غوندي ریاوروکي شرك دي اوزه له وړوکي شرکه ویریږم چي زمااُمتیان به یي وکړي اصحابو ورته عرض وکړ چي یارسول الله (ص) وړوکي شرك څه شي دي ؟ نبي کریم (ص) وفرما یل :خوك چي دشهرت اوښودني له پاره کوم کار وکړي الله پاك دقیامت په ورځ دهغه عیبونه دخلکو په وړاندي رسواکوي او خپلو بندگانو ته وایي چي داسړي په دنیاکي ریاکارؤ(بخاري) په هغه عمل کي چي یوه ذره قدري هم ریاوي الله یي پخپل درگاه کي نه قبلوي (ترغیب)

دقیامت په ورځ الله پاك ټول خلك راغونډوي اوبیایوآوازکوونکي آواز کوي : چاچي په دنیاکي داسي کاراوعمل کړیدي چي په هغه کي الله سره نوربي شریك کړي وي نو ثواب دي له بل چانه وغواړي ځکه چي الله پاك له ټولوشرکاؤ (شریکانونه) بیزاره دي.

اخلاص دیته وایي چي دانسان غوښتنه اومقصد داته وي چي نورخلك دي صفت وکړي بلکي دده په زړه کي داوي چي یواځي یو الله رضاشي اوقبول یي کړي.

حضرت جنید بغدادي رح فرمایي :

ترجمه : که څوك حضرت آدم علي نبینا وعلیه السلام په شان مسکیني اوعاجزي ،حضرت عیسي علیه السلام په شان زهدا وتقوي ،حضرت ایوب علیه السلام پشان صبر ، دحضرت یحیي علیه السلام په شان هومره اطاعت ، دحضرت ادریس علیه السلام په شان استقامت اومضبوطي ،دحضرت ابراهیم علیه السلام په شان له خداي سره مینه اومحبت اوحضرت محمد صلي الله علیه وسلم په شان اخلاق پیدا کړي لیکن که دده زړه یوزره هومره هم له خداي (ج) نه پرته بل چا طرف ته وي اویابوذره هومره کبراوریادده په زړه کي وي نودده ټول عمل بربادا‌وضائع‌دي.

لوي ریاکار اوتاوانی هغه څوك دي چي دخلکو په وړاندي ښه اونیك کارونه کوي خودالله په مخ کي چي هرڅه ویني اوپه هرڅه عالم دي بدکارونه کوي.

حضرت سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنه) عمر بن عبدالعزیزته ولیکل چي دالله تعالي مرسته دخپل بنده دنیت اواخلاص په مطابق صورت نیسي که دچانیت کامل وي نودالله مرسته هم ورسره کامله ده اوچرِ دچاپه نیت اواخلاص کي کمي وي نودالله مرسته به هم ورسره کمه وي (احیاء العلوم)

تاج طلا مال کیست ؟

خواهرملیحه "عمر" خواننده شهادت درنامه نسبتاً تفصیلي وباقلم شیوا مطلبي راتحت عنوان "تاج طلامال کیست " تهیه نموده ودرآن ازبي نظمي هاي موجود شکایت نموده مینویسند .

دولت اسلامي افغانستان یکنیم سال است که بعدازشکست کمونیست ها به تدبیروفداکاري روساي تنظیم هاي محترم بوجود آمده ، قبلاً یك قصر درکابل اکنون به اثرتدابیرعاقلانه این روسا قصوري دریغمان ،چارآسیاب ،جبل السراج وممکن بزودي درنواحي دیگرکابل بوجود آید.

درجاي دیگرمیگوید:دولت ما دولت معظم وباقدرت است ودرماهیت امریك دولت ملوك الطوایفي است که هرکس خودش برمنطقه ومردم خود حکمروایي میکند.

ملیحه "عمر" درباره اینکه چرا درابتدا مهاجرت نکردند میگوید . اگر اولاد مارا ازسینه ما دورکرده به زوربه جبهات فرستاده و دویاسه روز بعد مرده آنرا بماسپردند ،گفتیم وطن است، وطن را به کمونیست ها رهاکرده کجابرویم مقاومت مظلومانه کردیم وازخداوند بزرگ کمك ومدد خواستیم .

دراخیرنامه این خواننده آمده است : امروز درشهري آمدیم که اگردست به گدایي میزنیم گداتر ازخود آنها رامي بینیم ... واگربه کسب وکاري دست میزنیم آنقدر خودشان تردستي دارند که مابایددست زیرالاشه نشسته به اصطلاح کار روایي آنان راتماشاکنیم . بالاخره یکي ازهمین مهاجرین بمن گفت : بگو این تاج طلا حق کیست ویه لُنگي کي باید بخورد تاماسرنوشت خویش رابدانیم .

شهادت:

خواهرملیحه "عمر" دورتاج پوشي سپري شده ومودآن ازمیانرفته است. کسي حاضرنیست تاج طلایي شما را روي سرخود بگذارد اگر میل دارید روي سرخودتان بگذارید!

شماکه اینقدرمقاومت مظلومانه ا کرده ودراول به مهاجرت دست نزدید باید زیادتر از کسانیکه مهاجرشده اند صبروتحمل وبینش کافي دریافت علل وضع موجود را باخودداشته باشید . ان شا الله وضع موجود بزودي برطرف میشود وحکومت نه ملوك الطوایفي بلکه یك حکومت قوي اسلامي عرض اندام میکند.

موفق باشید.

اعلان فوتي (خط دیورند)

خواننده شهادت محترم محمدقاسم راسخ که آدرس شانرا کابل پست بکس ۸۷۲ نوشته اند.

درمضموني ازاینکه روزنامه فکرونظرات آزاد رانشرمیکند اظهارخرسندي میکند ومطلبي راتحت عنوان اعلان فوتي فرستاده اند. مایك قسمت نامه شانرا نشرمیکنیم ،ضمن تشکرازایشان وسایر دوستان تقاضا داریم که اگر باري لطف نموده نامه یي فرستادند مضمون راصاف وروشن دریك روي کاغذ بنویسند ، واینهم اعلان فوتي !

انگلستان پدرکلان - امریکا عربستان سعودي کاکا ها -پاکستان پسرکاکا-چین ماما- ایران پسرماما - روس خسر- تاجکستان ،ازبکستان خسربره ها - ملل متحد خانم کاکا نسبت وفات افغانستان به اطلاع دوستان رسانیده مي شودکه فاتحه مردانه به پاکستان وایران وفاتحه زنانه درمنزل مرحوم‌واقع سفارت خانه هاي شان درکابل گرفته میشود.

نوت : علاقمندان وامضاء کننده گان این معاهده زهرداروشوم (۱۲ نوامبر۱۸۹۳ دیورند) که بتاریخ ۱۲ عقرب ۱۳۷۲ ختم میگردد مطلع باشند که تاکنون حق به حقدارنرسیده ومردم اصیل وبادیانت افغانستان این وثیقه ملي وتاریخي خودرا هرچه زود تر حفظ خواهند کرد.

درحالیکه کفرجهاني جریانات فعلي افغانستان را دقیق زیرعینك ذره بیني خود قرارداده است وهیچگاه نمي خواهد که افغانستان ملت واحد ویك پارچه باشد ودراین سرزمین اسلام وافراد متعهد به اسلام حاکم باشد وهرآن دربي تفرقه ونفاق هستند ومزدوران بي مایه آنها درپیاده کردن پلان هاي شوم باداران گونه گون صورت تخم نفاق وبي امني رادربین ملت پاش میدهند تاوحدت ملي ، تمامیت ارضي وحکومت اسلامي ازهم بپاشد ملتي که درطول چهار ده سال جهاد همه مشکلات ملهبي ، لساني ونژادي ومنطقوي راحل ساختند دریك سنگرواحد در مقابل دشمن موضع گرفتند ولي حالا چطور شدکه یکي بلاي جان دیگر خودشدند مبرهن وواضح است که دشمنان اسلام خاموش نمي نشینند درطول تاریخ نفاق بزرگترین سلاح دشمن ملت مابوده .

پس برزمامداران برسراقتدار لازم وضروري مي باشد که فرصت راازدست نداده باحفظ وحدت ویکپارچگي بین همه مجاهدین واقشار ملت‌حیسه هاي دشمن مکار راخنثي بسازند، باید بدانیدکه باجنگ هاي تحمیلي بریك دیگر هیچ چیزي براي تان حاصل نمي شود جز پیاده شدن پروگرام دشمن .

نامه هاي وارده

مشوره به کارکنان جریدهٔ شهادت

همکاروخواننده شهادت محترم ضیاازنصرت مینه نامه یي دارندکه باتشکرازمشورتهاي آنهاانیك قسمتي ازنامه آنهارا به نشرمیگذاریم .

به اداره محترم جریده شهادت !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

اینجانب که یکي ازخوانندگان همیشه گي جریده شهادت میباشم،سلام واحترامات خودراخدمت همه کارکنان جریده تقدیم میدارم. بعداً بنده عرض میکنم که ازدیدن فوتوهاي استادمحترم برهان الدین «رباني» رئیس دولت ومحترم انجنیر حکمتیارصدراعظم ،مولوي صاحب محمدنبي محمدي واستادسیاف که درشماره(۱۰٦) یوم ۲٤ اسدسال جاري به چاپ رسیده بودزیادخوشحال شدم ازاینکه یك قدم به سوي برادري واخوت اسلامي است وهمچنان ازنشست ایشان دریغمان که باعث خورسندي وامیدواري ماوهمه ملت مظلوم ماگردید .

ولي امید ماازکارکنان جریده اینست که فعلاً استادرباني به صفت رئیس دولت ومحترم حکمتیاربه صفت صدراعظم قبول شده وشمادراین جریدهٔ دیدرسورتیکه ازعنوان درشت تان معلوم میشوداولاً اسم رئیس دولت راذکرکرده اید، امااولاً فوتوي صدراعظم راآنهم تقریباً دوبرابر فوتوي رئیس جمهوریه چاپ رسانیده اید .

بخاطرنزدیك شدن این دوحزب که ستون فقرات جهاد مي باشند امیداست این نزاکت هارامتوجه باشیدفرق نمیکندکه جریده شهادت مربوط حزب اسلامي است . چرا که دیگرحریه ووسیله براي تبلیغات مفسدین ومنافقین نباشد وامید ماازبرادران جمعیت هم چنان میباشدکه متوجه همچومسایل باشند .

اگرچه تاچیزمعلوم میشودولي دشمنان اسلام ازکاهي کوهي میسازند وملت مارادرآتش نفاق میسوزانند، چراکه اقلیت محدودي ازملت ماوشما ازنعمت سواد برخوردارهستند . بااحترام

ازطرف ضیاءالله ازولسوالي چاردهي کابل فعلاً باشنده نصرت مینه

یکسال وچارده سال

یك خواننده به اسم (ص.ل.) ازافغان کالوني مینگارند که درمدت چارده سال یکعده مردم بودندکه هم دربین مجاهدین وهم دررژیم گذشته مال ودارایي نداشتند ویك لقمه نان شب وروزرا بزحمت میتوانستند پیداکنند ، اما درظرف یکسال ونیمي که ازسقوط رژیم کمونیستي سپري شد چنان سرمایداروملیونرشده اندکه آدم حیران مي ماند. سوال اینجاست که بالآخره ازاین افرادي که دارایي هاي عامه را حیف ومیل کرده اند سوال وپرسان میشودویااینکه گذشته‌راصلوات گفته میشود .

شهادت :

برادر(ص.ل.) ! وقتي حکومت استقرارپیداکند ، باید برپایه قسط وعدالت استوارباشد؛حتماً ازکسانیکه دریابرمنافع عامه جفاکرده اند حساب گرفته خواهدشد. موفق باشید

ان شاء الله جنگ...

داحقیقت ټولي ته ښي اوزموږ هیوادوالو ته معلوم شوي چي دسرویي پیښه ځانگړي مسایل دي چي په تنظیمونوپوري اړه نه لري بلکي یوقومي شکل یي اختیارکړي دي.حزب اسلامي د یوي اعلامیي په ترڅ کي په ډاگه اعلان کړي چي موږددغه رنگه جنگونو دپیښیدوپه کلکه غندنه کوو، غوښتنه کوو چي دامسئله زرترزره دسولي له لاري حل وفصل شي اوموږبه په دغو جنگونوکي دحزب اسلامي یوتن مجاهدته هم دگډون اجازه ورنکړو اونه موورکړیده . له دي پرته که خبري سرچینوهم له هرهیوادوال سره مرکه کړي دایي ویلي چي داتنظیمي مسئله نده.

ولي افسوس چي دکابل رادیو اودشومواغراضوخاوندان دغه موضوع په ناحقه په حزب اسلامي پوري ورتپي غواړي په دغه پلمه سره دجنگ اورتازه کړي. که له دغه جناب څخه پوښتنه وکړو چي آیادسرویي په پیښه کي دحزب اسلامي دیوجانب سره په کومك کولو کي څه گټه شته ؟ آیادکوم نوي تحول اوامتیازنه به برخمن شي ؟ نه خیر زموږ یقین دي چي په دغه دول عمل سره به نه یوازي داچي ستاسي په شان به دیولوي جرم مرتکب وگرځوبلکي دخداي (ج) دعذاب دنازلیدو انتظاربه هم باسو داځکه چي دغه اختلاف نن دمسلمانانو ترمنځ پیښ شوي دي اوحزب اسلامي تل دسولي اوامن قهرماني ترلاسه کړي اوملت ته یي پدي برخه کي امتحان ورکړي دي . په هرحال پدي رابطه دحزب اسلامي موقف اودریځ بالکل روښانه دي دحزب اسلامي مجاهدامیردیوبااېمانه مسئول په صفت ددغه اوردمرکیدولپاره خپلي هلي ځلي سرته رسولي، دداوروخواؤترمنځ یي دسولي اوتفاهم زمینه برابره کړي له هغي اخوابه مسئولیت دهغه چاپه غاړه وي چي دغه اورته دلاریات ببوزي وهلوکوښښ کوي او که پوښتنه وکړو چي دکابل اداري دیوي مسئولي مرجع په صفت پدي برخه کي کوم اقدام کړي اوکه یي دقومونو ترمنځ داختلاف اوجگړي کولو ناحقه پروپاگندتیزکړي دي هرچاته معلومه ده چي دکابل اداري دخپلو په بغل کي ساتل شویو کمونستانودخوشحالولو په خاطر،هغسي عملونوته لاس اوردکړي چي دردوونکي نتیجه بي په سترگوویننو .

بقیه سخن روز

قرارنگرفته بود. امروزمخالفین حزب روزدرروزانکاي شان به پول وسرنیزه بیشترمیشود. دشمن بسیارکوشید که اعتماد مردم راازحزب دورنگهدارد وحزب را جنگ افروز و انحصارطلب معرفي کند. اماالله الحمد امروزمردم حرفها، خواستها ونظریات شانرا ازتربیون حزب اعلان میکنند وبهلوي حزب مي ایستند .

ترخودپښتنو په سيموکي امنيت رانشي په افغانستان کي امنيت نه شي راتلاي

جنرال رحمت الله صافی

دتلي ۲۲ نيته :

جنرال رحمت الله صافي دسروبي دپيښوپه اروند دبي بي سي سره دمركي په ترخ كي وويل دافغانستان دقضاياوودحل اصلي محور پښتانه دي. ترخوچي دپښتنو په سيمه كي امنيت رانشي په افغانستان كي سوله اوامنيت نشي راتلي . دوهمه خبره داده چي دغه كارچي په جلال آبادكي شويدي دشمالي خان له وژل كيدو وروسته شوي دابه كارنه دي شوي هم په فردي اوهم په اجتماعي لحاظ اوهم دقوم اودافغانستان دقضاياوودحل په لحاظ باندي. اوماته داسي ښكاري چي تنظيمونه اوس اوبه خروي اوماهيان په كي نيسي اودلته اوس دغرض لاسونه وراندي شويدي كه څه هم قضيه مهمه ده ولي حل بي دپښتنو دعنعنوپه مقابل كي له اميدنه بهرنه دي .

شورشيان كرد،يك امريكايي ويك نيوزيلندي رااختطاف كردند

۲٤ ميزان :

شورشيان كرديك امريكايي ويك نيوزيلېندي رادرشرق تركيه اختطاف كرده اند. طبق گزارش منابع خبري آژانس خبرساني كردهادرآلمان مبني براختطاف اين دونفر ازطرف مقامات امريكاونيوزيلېند تأييد نشده است حزب كارگران كردستان گفت : اين دومردرابه تاريخ ۹ اكتبربين شهرهاي ارجنتاين وزيروم گرفتاركرده اند . حزب كارگركردستان اضافه نمودتازمانيكه حكومات اين دوكشورياماموربن اين حزب درتماس نشوند،آنهارا نگاه خواهند داشت .

مقامات كرددستورسركوبي اعضاي نهضت جدايي خواه تركيه راصادركردند

۲٤ ميزان :

مقامات كرددرشمال عراق دستورسركوبي اعضاي نهضت جدايي خواه تركيه راصادركرده است

طبق گزارش منابع خبري ،يك سخن گوي مقامات كردعراق گفت : دفترحزب كارگران كردتركيه درشمال عراق مسدود خواهدشد واگرافراد اين حزب نقاط نزديك مرزراتقويه كنند باعواقب آن روبرومي شوند .

به نقل ازراديوبي بي سي اين اقدام ، كوششي براي جلوگيري ازحملات نيروهاي تركيه به شمال عراق است، كه طي دوهفته گذشته شدت يافته بود .

پاكستان ونتايج

پاكستان طي صدورفرماني اعضاي منتخب مجلس رابه پيروي ازنظرات حزبي كه ازطرف آن نامزد بوده اندمجبورساخت . اين فرمان تصريح مي كندكه درصورت مخالفت نماينده باحزب خودش عضويت اودرمجلس ملغي ودرحوزه ي كه اوبه پيروزي رسيده مجدداً انتخابات برگزارخواهدشد .

درست است كه تغييروفاداري ميان نمايندگان مجلس درپاكستان سابقهٔ طولاني دارد و ديده شده كه عده يي ازنمايندگان مجلس دنبال لقمهٔ چربترميروند وهركس كه به ايشان مقام بهتري بدهد به نفع اوراي ميدهند امانبايداين موضوع راصددرصددانست اگرچنين است چرابه رهبران احزاب گفته نميشودكه اشخاصي رانامزدكنند كه كاملاً مورد اعتماد باشند ازسوي ديگرنبايد فراموش كردكه درپيروزي انتخابات برعلاوه حزب شخصيت خودنامزد نيز خيلي مهم ميباشدوروي همين دليل احزاب شخصيت هاي پرنفوذ رابه نمايندگي مجلس نامزدمي كنند .

قرارداد ي ته ضرورت دي

سيدآغاسيدكريم خان زوي دننگرهاردامنيي قوماندانۍ ضرورت ور(۲٤)قلمه تركاري اوتازه ميوه ديوكال لپاره په لاندي نرخونو رسوي :

۱- اعلي كچالويوكيلوپه ۲۳۵	افغاني
۲- كلچه پياز يوكيلوپه ۲۲۹	افغاني
۳- تازه وطني روميان يوكيلوپه ۲۰۰	افغاني
٤- تازه خارجي روميان يوكيلوپه ٤۳۷	افغاني
٥- توربادنجان يوكيلوپه ۷۹	افغاني
٦- وطني ليرو يوكيلو په ۱۸۹	افغاني
۷- ترائي يوكيلوپه ۲۳۰	افغاني
۸ - غټ كدو يوكيلو۱۳۹	افغاني
۹- اوسط گلپي يوه دانه ۲۲۳	افغاني
۱۰- تازه پالك يوكيلو ۸۸	افغاني
۱۱- گازري يوكيلو ۸۸	افغاني
۱۲- تيپر يوكيلو ٦٤	افغاني
۱۳- وچ روميان يوكيلو ۲۳۷۷	افغاني
۱٤- اعلي مني يوه كيلو په ٤۹۹	افغاني
۱٥- قيسي زردالو يوكيلوپه ٤۹۸	افغاني
۱٦- كشمشي انگور يوكيلوپه ٤۸۹	افغاني
۱۷- حسيني انگور يوكيلوپه ٤۸۹	افغاني
۱۸- قندهاري انار يوكيلوپه ٤۳۷	افغاني
۱۹- بيدانه انار يوكيلوپه ٤۳۷	افغاني
۲۰- تازه كينو يوكيلوپه ۳٤۷	افغاني
۲۱- غټه كيله يوه دانه په ۹۸	افغاني
۲۲ - غټ بادرنگ يودانه په ٤۲	افغاني
۲۳ - اعلي ختكي يو كيلوپه ۲۷۸	افغاني
۲٤ - هندوانه يوه كيلوپه ۱۷۸	افغاني

موسسي اونورخوك ني كه په كمه بيه رسوي خپل غوښتن ليكونه دي دميزان دمياشتي په ۲۸ نيته دنوموري قوماندانۍ دلوژستيك مديريت ته وسپاري شرطپانه كتلاي شي ۲ فيصده نقدتامينات اخيستل كيږي .

په مسكوكي په دير

دوي ويلي هغه خلك چي په غيرقانوني توگه په مسكوكي اوسيږي نوي فيصده جنايتونه كوي

تمام پاتك هاو

وبريدجنرال عبدالمجيد ولسوال ولسوالي محمدآغه ولايت لوگرشركت داشتند .

دسروبي په جگړه

مجاهدين په جنگ كي شامل شوي اودزرداخبره چي دحزب اسلامي پوري منسوب كيږي هغه دشمالي دتره ځوي دي اواحمدزي هم دي .

ده زياته كړه چي په دغوجنگونوكي ددوه سوويڼځوسونه ترددي سووپوري كسان مړه شويدي، ده وويل چي له دواړو خواوو سره دخبرونه وروسته هغه په دي متيقن شوي چي دواړه به اوربند اعلان كړي

اعلان مفقودي

محمدعلم مشهوربه شيرآغامسكونه ولايت كابل كه ٤۷ سال عمردارد ،به اثرخلل دماغ به تاريخ ۱٥ ميزان درمنطقه بورد پشاورمفقود گرديده است. افراديكه اورادبده ويا درموردوي اطلاعي داشته باشند ، لطفاً به آدرس عكاسخانه سپين غرواقع بورد وياصرافي حاجي محمدظاهر درچوك يادگاراطلاع دهند .

دوركي اعلان

دمحمدولي دخوي منگل خان چي دكنړدولايت ددره پيچ ولسوالي اوسيدونكي دي دسيدجمال الدين افغان دليسي څخه دفراغت شهادت نامه وركه شويده كه هرچاموندلي وي په لاندي آدرس دي وسپاري دننگرهاراسلامي پوهنتون ، پنځم بلاك ، (۱) منزل اتاق (۲)

زيري زيري زيري

دايمان علمي اداره له سمعي تجهيزاتوسره دباتجربه استاذانو په همكاري دكمپيوټر، عربي ،رياضي ، اوانگليسي كورسونه دBeginnerڅخه تر Advance2 پوري مخكي او وروسته له وخته دايره وي مينه وال دي خبروي.

ثبت نام : دسهار ۸ بجوڅخه دمازيگرتر٥ بجوپوري .

ادرس : دځلورم سمت ماموريت دحاجي اميرجان اپارتمان دريم منزل دايمان علمي اداره جلال آبادبنار.

۳ — ۲

اطلاعيه دافغانستان اسلامي پوهنتون

به اطلاع همه فارغين ليسه هاومدارس ديني معادل صنف دوازدهم رسانيده ميشود كه ثبت نام براي امتحان كانكورسال تعليمي ۷۲ - ۷۳ پوهنتون ازتاريخ ۲۰ ميزان ۷۲ الي ۱٤ عقرب ۷۲ همه روزه ازساعت نه الي دوازده ظهردرمقرپوهنتون واقع نصرت مينه ادامه دارد . برادران محترم بااسناد اصلي فراغت شان به اداره پوهنتون درنصرت مينه مراجعه نمايند .

امتحان كانكوربتاريخ پانزدهم عقرب ۱۳۷۲ درمسجد جامع نصرت مينه اخذ ميگرد. برادران مطلع باشند .

۱ - ۱۹

فرمان الهي

يقيناً آنهائيكه دوست دارندكه تهمت بدكاري درميان مسلمانان شايع شود،ايشان راست عذاب دردناك دردنياوآخرت .

(النور - ۱۹)

ارشادنبوي

عبدالله ابن مسعود(رض) روايت مي كندكه پيامبر(ص) فرمودند: كسيكه به اندازه يك ذره كبردردلش باشدبه بهشت داخل نمي گردد. مردي گفت:مسلماً شخصي دوست داردكه جامه وكفشش نيكوباشد، فرمود: خداوند زيباست وزيبايي رادوست ميدارد.كبرسركشي دربرابرحق وخوار شمردن مردم است. (رواه مسلم)

دسرمقالي پاتي برخه

دخلكوپاملرنه اوداسلامي قوتونو شكست زموردسياسي وضعيت دگدودي انعكاس اودلويديځ گمراه كوونكي تبليغ دي، چي اسلامي خوځښتونوپسي يي پيښي رابدوهلي دي. اوله بيلابيلولوريونه ئريوالوته تلقين كوي ، چي مسلمانان ديوه ارام اومطمئن نظام دجوړښت مشره نه لري، اوكه څوك پدي لاره كي كوم قدم اوچتوي ، نونتيجه به يي دافغانستان پيښو ته ورته وي، اوس نوله خان سره حساب كول پكاردي، چي دمليونونوشهيدانودسپيڅلي وينې سره تغافل اويوبل ته نه تنازل موددي لامل نه شو، چي دگردي اسلامي نړي داسلامي رجحاناتو اوجهادي بهيرخون راپه غاړه شي ؟ كه بنه خبرشو، داخودومره لوي تاريخي جرم دي، چي اسلامي تاريخ به يي هيڅكله هم ونه بخښي . اخرزموږجهادي قيادت پدي ولي خان نه خبروي، چي مجاهدملت داسلامي حكومت دراوستلولپاره دشهيدانودپاكوبنوپه ژبه چاته مخاطب دي، اوله چانه دخپلو قاتلانوزرترزره انتقام غواړي. موږ نه وايو، چي مجاهدملت دي دجهادي مشرانوقايدانه صلاحيتونه تريوښتني لاندي راولي، خوديوه مجاهدافغان په حيث دادهرچاحق دي ، چي دكابل دامنيت اوساتني سوال راپورته كړي، اوويوښتي ، چي داولي دكابل دبيارامنيت نن هم دمجاهدينوپرځاي دمعلوم الحاله كمونستانوپه لاس كي دي. همداډول له مركز نه دجنگ لمن ولاياتوته راخوروول اوپدي باب دبي څرته پيسوويشل اونوري ستونزي پيداكول به داملت دي ته اړنه كړي، چي يوځل بيامبدان ته شي، اودخپلو شهيدانودوينې دضايع كيدلو پوښتنه وكړي. پدي شپوورځوكي په افغانستان كي دجنگونوتوديدلوخبره دي ته رسولي ، چي دپاكستان مؤقت صدراعظم خپلواسلامي هيوادونوته دافغانستان دپيښوپه باب اندېښنه څرگنده كړي اوورانديزيي كړي ، چي دمينځگړتوب لپاره اقدام وكړي. ديوه مجاهدملت دمشرانولپاره داخومره دافسوس ځاي دي ، چي هرځل يي پردي سره جرگه كوي، خودوي يوځل هم سره پخپلو كي تفاهم ته ونه رسيدل. پكارخوداوه ، چي نن ورځ افغانستان په سياسي لحاظ دومره مضبوط وي، چي نوره اسلامي نړي يي ترخپلو جهادي ورانگولاندي راوستي وي. له دوستواسلامي هيوادونونه دافغانستان لپاره اقتصادي مرستې غوښتل پكارو، نه داچي زموږدپوخلاينې لپاره راوبلل شي. اخرخلك به څه وايي، نړي به زموږپه باب څه فكركوي،هغه خوځښتونه چي زموږجهادي تجربي ازموي، څومره به نااميده وي. دادچاگناه ده، چي مجاهدين داسلامي حكومت دجوړولو پرځاي ديوبل وينوته ليواله دي. كه دادكمونستانوشرارت وي، نوولي دملت له قاتلانونه خپل صفوف نشوصفاكولي، اوكه دازموږدسياسي فراست كمي وي، نوبايد له سره پري غوروشي، اوزرترزره پوه شي. داستاذرباني دالمان دسفرلغوكيدل دخينوكتونكويه خيال له هغې ولسي كركي اوجذباتونه خان ژغورل وو، چي افغانانوورته په آلمان كي تياري نيولي وه . كه له استاذرباني سره كوم معقول اوقناعت بخښوونكي ځواب وي، نوهيڅكله به يي خپل تصميم اړولي نه وي. په همدي اروند، په حزب اسلامي اوقيادت پسي يي دكابل درادبويي څپه پروپاگندونوداشكوك راپيداكړي ، چي داراديو دملت نه بلكي ديوه مشخص گروپ نمايندگي كوي، اوچي څبره داختصاص شوه، نوبياخودولت له سره وجودنه لري، اوكه وي نوغيرقانوني اودملت ترجماني نشي كولي. په حقيقت كي ددولت داسي طرف نيول پخپله دخپل وجودنفي كول اومسخه ده. كه لويدېزوتبليغاتوته وگورو، نودمجاهدينوترمنځ دنفاق دراپيداكولو لپاره دومره زهرشيندي ، چي له قياس پورته كاردي. همدااوس به دسروبي په پيښوكي دمجاهدومنځگروخخه چي حزب اسلامي پدي كي ككړنه دي خولويديځ اژانسونه په پرله پسي دول داستونزه دومره لويوي، اوداسي يي مطرح كوي، چي گويا دادخوتنظيمونوجنگ دي. نومجاهدين چي هرچيرته دي، بايد داسلام ددښمنانو داډول له خطرنه ډكوتبليغاتواولاسوهنوته پام وكړي، اوهغه پخپل مومنانه فراست كچ ومېچ كړي . اوس هغه وخت راورسيدلي چي په غورونو كنولو اوتغافل به همداسي پاتي نه شو، څكه لوي خداي (ج) هم دځمكي ميراث هغه چاته وركوي، چي صالح اونيكان وي. اوكه څوك پدي معيار برابرنه وي، نوديوه ناخلف په توگه دي دعاقبتدلو انتظارورباسي ، چي ديرلند به وي ، نن هم دافرصت شته ، چي پخپلو مجاهدانه صلاحيتونو سياسي گدودي لغوه اوپخپل لاس دجهاداوقرباني دخوكشي مخه ونيسو، اوهيوادته دنفاق له دغي وژونكي بحران نه نجات وركړو .

اخبارجهان

رهبرقواي نظامي هايتي بخاطرمراجعت رئيس جمهورمخلوع آنكشوراستعفاداد

هايتي - ۲٤ ميزان :

قراراست رهبرقواي نظامي هايتي به روزجمعه استعفابدهدتاراه براي مراجعت رئيس جمهورمخلوع همواركردد، ولي اظهارات جنرال " راول " نشان ميدهد كه براي كناررفتن آنهاي كه دريك موافقت نامه تحت نظرملل متحد وضع كرده بودآماده نيست .

افراد مسلح به روزجمعه وزيرعدليه راكه ازطرفداران رئيس جمهوربودبه قتل رسانيدند .

دپولېند صدراعظم استعفاوركړه

پولېند - دتلي ۲۲ نيته :

دپولېندصدراعظم دخپلي وظيفي نه استعفا وكړه چي دده دجانشين له پاره لاره پرانيستل شي .

كه څه هم دپولېند دجمهوررئيس له خوالپتاپانس دصدراعظم په توگه تاكل شويدي اوشائي چي دهغه دمقرري فرمان په روانه اوني كي لاسليك كړي .

روزنامه پراوداوايزوستيابراي ابد بسته شدند

مسكو - ۲٤ ميزان :

روزنامه هاي پراودا وايزويستياي روسيه ضمن اعلان حالت فوق العاده براي ابدبسته شده اند.مسئولين اين روزنامه ها گفته اند كه موضوع سقوط روزنامه هاي شانرا به دادگاه ارجاع خواهندكرد .

طبق گزارش منابع خبري آنهامي گويندكه دستوررئيس جمهوريلتسن براي بركناري شان اجرانخواهدشد، زيراكارمندان آنهاراانتخاب كرده اند ، ونام روزنامه هاي خودراهم تغيرنخواهند داد.

دسوريي عسكروپه لبنان كي مثبت نقش لوبولي دي

لبنان - دتلي ۲۲ نيته :

دلبنان صدراعظم ويلي چي دسوريي عسكروپه لبنان كي مثبت نقش لوبولي دي .

ده پرون په پاريس كي ديوي مركي په ترځ كي داخبره كړيده هغه وويل چي ترهغه وخته پوري به دسوريي عسكرودتلو خواست ونكړي ترځوچي لبناني عسكردلبنان دجنوبي برخوڅخه وتلي نه وي

وزيرخارجه انگلستان ازملاقات مامورين ايران والمان ابرازنگراني كرده است

لندن - ۲٤ ميزان :

دگلس هيردوزيرخارجهٔ بريتانيابراي وزيرخارجهٔ آلمان يادداشتي فرستاده وازملاقات هفتهٔ گذشته مامورين اطلاعاتي ايران وآلمان ابرازنگراني كرده است .

به نقل ازراديوبي بي سي نامهٔ دگلس هيرداعتراض به مذاكره مقامات آلمان باعلي فلاحيان وزيراطلاعات ايران است،درحاليكه تصميم ايران به كشتن سلمان رشدي نويسندهٔ بريتانيايي هنوزباقي است .

اماسخن گوي دولت آلمان ازتصميم ملاقات علي فلاحيان دفاع كرده وگفت؛ مذاكرات محدود به مسايل بشردوستانه بوده است .

سوماليادي دافريقايي مشرانوپه مرسته خپل سياسي ساختمان جوړكړي : كلنټن

دامريكاجمهوررئيس وايي چي سوماليانيان دي دافريقا دمشرانوپه مرسته خپل سياسي ساختمان بيرته له سره جوړكړي .

دي وايي چي امريكا هيڅ دلچسپي نه لري چي دسوماليا قومونه دي دهغه هيوادپه راتلونكي كي برخه وانه خلي .

ده دغه خبري ديوي خبري كنفرانس په ترځ كي وكړه اوويي ويل چي دازموږوظيفه نه ده چي دسومالياسياسي ساختمان له سره جوړكړو.

مديرقبلي تلويزيون دولتي الجزايربه قتل رسيد

الجزيره - ۲۳ ميزان :

مصطفي عبادي مديرقبلي تلويزيون دولتي الجزاير روزپنجشنبه درنزديكي خانه اش به قتل رسيد .

طبق گزارش منابع خبري قتل مصطفي عبادي درشهر شرقي الجزاير رخ داد. هيچ كسي مسئوليت اين قتل رابه عهده نگرفته است. موصوف درماه سپتمبر گذشته ازسمت خوداستعفا داده بود .

په لاتيني امريكا كي پنځه نوي مليونه خلك په فقركي ژوندكوي

واشنگټن - دتلي ۲۲ نيته :

دلاتيني امريكي دهغوخلكوشمير چي په ډير فقراكي ژوندكوي پنځه نوي مليونوته رسيدلي دي ، داجتماعي ستونزو برسيره توقع كيږي چي بوعالي جرگه پدي كاربوخته ده چي دغو خلكوته دتجارت اونوركارآسانتياوي برابري كړي .

شهادت

بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : المجنيرحكمتيار

ناشر : رياست ارشادوفرهنگ

تحت نظرهيئت تحرير

پست بكس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور

آدرس : جلال آباد چكتوري

حساب بانكي:۸٥۲٦٤ دافغانستان بانك

تلفون : ۲۹۲٦